AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپيڅلی ۲۰۲۶/۱۰/۱۶

# پر "طلوع افغان" مين



یو خواپاکی سپين ږيری په اوونۍ کې درې ورځې خپلو لمسيانو کندهار اطلاعات او کلتور رياست کې د " طلوع افغان" مديريت ته په ويلچر کې راوستی.

زه تازه د دغه تاريخي ورځپاڼي مرستيال مقرر سوی وم. سپين ږيري يوازي د ورځپاڼي د نوي ګڼي تر لاسه کولو په موخه د راتګ زحمت کښی.

هغه مهال(۱۳۸۱ - ۱۳۸۲ لمريز) طلوع افغان د يو وار پر ځای په اوونۍ کې (يکشنبه، سه شنبه او پنجشنبه) سهار وختي د ورځپاڼي په نامه له چاپه راوتله.

سپين ږيری نه يوازې د اخبار د لوستلو مينه وال ؤ، بلکې پر بېلا بيلو ادبي او ټولنيزو موضوعګانو يې ليکنې او ان ځينې وخت يې پرکره کتنه هم قلم چلوی.

دغه سپين ږيری نصرت نيازی نومېدی،چې د ژوند ډېره برخه يې د کتابونو او طلوع افغان ورځپاڼي له پلورلو سره تېره کړې ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيز بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په غير و لولئ

که څه هم په کندهار ښار کي ارګ بازار په کتابپلورنځیو مشهور ؤ، خو د دوستانو د معلوماتو له مخي نوموړی په کندهار کي لومړی ځوک ؤ،چي د ښار په زړه "شهیدانو څلور لاري" ته نژدې یې " نصرت کتاب پلورنځی" پرانیست.
دده په کتاب پلورنځي کي د اسلامي کتابونو تر څنګ دعصري علومو کتابونو برخه هم زیاته او اکثره وخت به ځوانان د کتاب رانیولو او کرایه کولو لپاره ور تلل.

دده په زیار دغه چاپ سوي کتابونه مالیدلي دي:

۱، "اهاړ" د خوږ ژبي شاعر بریالي عبدالغفار شعري کلیات
۲،"د خندا پلوشي" د ادبي ټوکو ټولګه
۳، "د کندهار نشریحی "

نوموړی ما داسي وخت وپیژندی،چي ناجوړی اود عمر زیاتوالي کمزوری کړی ؤ، مګر د مطالعي او لیکلو زغم یې درلود، خو ډېر مجلس او پوښتني پر غمېدلي.

زه وایم کاشکي مي له دغه مشر قلموال سره تر مخه شناخت درلودای، چي ده بیا د نورو مشرانو لیکوالانو او شاعرانو په اړه ډېري خاطرې راسره شریک کړي وای!!

مرحوم نصرت نیازي د طلوع افغان ورځپاڼي یو شمېر زاړه کلیکسیونونه هم درلودل، چي بیا یې د کندهار عامه کتابتون ته د خپلي درملني لپاره په مناسبه بیه له ضایع کېدو څخه وژغورل.

طلوع افغان ورځپاڼه له تېرو ۱۰۵ کالو راهیسي" ۱۳۰۰لمریز" په کندهار کي چاپ او خپرېږي.

۱۵ اکتوبر ۲۰۲٦
بن ښار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ